د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پانه: www.unama-afg.org

# رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**میرمن کریستینا اوګز، د ملګرو ملتونو د جرمونو او مخدره توکو د دفتر مشره په افغانستان کی**
**علیم صدیق، د یوناما سرپرست ویاندوی**

*کابل- ۲۰۰۸ کال د مارچ ۵*

**یوناما:** ښاغلو او آغلو سهار مو نیکمرغه، د دې نه وړاندې چې موږ د دې مطبوعاتي کنفرانس په عمده برخو پيل کړو غواړم د ډنمارکي کارتونونو او هالنډی فلم په اړوند چې په دې وروستيو اونيو کې يې دلته او د نړۍ په کچه يو شمير شخړې او خبرې اترې رامنځ ته کړې لنډ بيان ورکړم.

موږ د ډنمارکي کارتونو او هالنډي فلم د خپريدلو له امله چې کومې شخړې راپورته شوې، د افغان وګړو په اندیښنو کې ځان شريک بولو. موږ ټل باور لرو چې د رسنيو ازادي د مذهبي باورونو، او ټولو مذهبونو اصولو ته او د اسلام د سپيڅلی دين د اصولو پر شمول، بشپړ درناوي کوي.
موږ د بيلا بيلو خلکو د عقيدو او کلتوري عنعنو تر منځ د سوله ييزو خبرو اترو او د دوه اړخيزه درناوی له طريقه سوء تفاهم او د دشمني د له منځه وړلو په اهميت باور لرو. موږ په دې اړه د ولسي جرګې د غړيو له خوا د نيول شوې، خو اصولی اعلاميي ستاينه کوو.
دا خورا مهمه ده چي موږ درک کړو چې د يو کارتونيست او يوه فلم جوړونکی عملونه نه شو کولای د نړيوالي ټولنې برخي اخيستني لوړ ماهيت د افغانستان او د افغانستان د حکومت سره چې بنسټ يې هميشه په دوه اړخيز درناوی او پوهاى ولاړ وو، منعکس او توصيف کړي.

په يوه ځانګړې موضوع باندې په دې وروستيو ورځو کې د مرکزي حکومت د کنترول د اندازې په باره کې رپوټونه ورکول کيږي. راځئ چې ددې موضوع په باب خبره له شکه وباسو. د ټولو کابو ۴۰۰ ولسواليو څخه په دا تير کال کې هغه امنيتي پيښې چې منځ ته راتلې له ۷۰ فيصدو څخه ۴۰ فيصدو ته راکمې شوې دي.
دولت د ۳۴ ولايتونو لپاره ۳۴ واليان لري چې ټول يې د ولسمشر کرزی تر کنترول، لارښووني او حکومت لاندې دي. ددې بر خلاف وېناوې په رښتيا سره خورا بې لارې کوونکي دي او هغه هڅې په کمه اټکلوي چې دولت په ټول افغانستان کې دحکومت کمولو د کيفيت او پراختيا د لاه بنه کولو أباهر سرته رسولي دي.

ستاسو يو شمير به خبر وي، چي د نشه يي توکو د کنترول نړيوال بورډ چې د مخدره توکو په باب د ملګرو ملتونو د کنوانيسيون د پلی کولو د نړۍارتمسووليت په غاړه لري، نن سهار يي خپل کالني رپوټ خپور کړی دی. نوموړی رپوټ هغه اړتيا په ګوته کړې ده چې افغانستان ته د هغو کيمياوي موادو د راوړلو په محدودولو کې بايد لا زيات کار وشي، چې د هيروينو په توليد کې ورڅخه کار اخيستل کيږي، او همدارنګه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په حکومتونو غږ کوي د هغو جنايت کار ډلو په ټکولو کې لا ډير کار کوکړي، چې د نه يي توکو په سوداګری بوخت دي.
ددې لپاره چې دغه رپوټ ته د افغانستان په اړوند نظر واچوو، له موږ سره نن په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو د دفتر استازی کريستينا اوګز حاضره ده چې هغه به له موږ سره مرسته وکړي دغه رپوټ د افغانستان په هينداره کې ووينو او همدارنګه د UNODC دريځ په يو شمير له دغو اغزنو موضوع ګانو سره د معاملي کولو په لاره کې په ګوته کړي.

سږ کال بیا د INCB په کلني رپوټ کې ډیرې جدي اندیښني بیان شوي دي، ځکه چې وضعه په واقعیت کې بهتره شوې نه، بلکې ددې برعکس ده. په کومو ستونزو کې چې د INCB له خوا یادې شوي دي، یوه دا ده چې د تریاکو کښت بې ساری سطحې ته رسیدلی دی.

آپین هغه خام مواد دی چې د هیروینو او مورفینو د جوړولو لپاره په کاریږي او ددې کار لپاره کیمیاوي موادو ته اړتیا وي. دغه کیمیاوي مواد په ډیره اسانی سره شتون لري، ددې حقیقت سره سره چې په دې هیواد کې دغو موادو استعمال لپاره نه قانوني او نه صنعتي جواز لري. دغه توکي د افغانستان له بهر څخه په قاچاقي توګه راوړل کیږي.

افغانستان اوس په نړۍ کې د چرسو (کانبیز) یو ستر تولیدونکی هیواد هم دی. دغه رپوټ بیا هم د فساد موضوع راپورته کړې ده او وایي چې فساد په افغانستان کې د دغې ستونزې د حل کولو په وړاندې یوه ستره ننګونه ده.

تر اوسه پورې چې کله موږ د نشه یي توکو په باب خبرې کوو زیاته پاملرنه په واقعیت کې په کښت، د کارکوونکو په اړتیا، چې د کوکنارو په عوض بدیل ولري او همدارنګه د دغه بوټي په له منځه وړلو باندې تمرکز لري، خو دا په هیواد کې د نشه یي توکو یوازینی ستونزه نه ده.

په نشه يي توکو روږدی کیدل یوه پرمختلونکې ستونزه ده، خو زه اوس غواړم د نشه يي توکو په قاچاق او جوړولو باندې خبرې وکړم. آپین تر ډیرې اندازې پورې د افغانستان په سرحدي سیمو کې د ننه په مورفینو او هیروینو بدلیږي، په تیره د پاکستان سره د ګډو پولو په سیمو کې. زیاتره وختونه دا خوځنده او ډیره واړه یونیټونه دي چې اکثرا په لاریو کې باریږي، چې په دې ترتیب کولای شي له یوه ځایه بل ځای ته انتقال شي او دا کار د یونیټونو د کشفولو کار لا نور هم ستونزمن وي.

د دغو لابراتوارونو ډیری خاوندان افغانان دي او زه هغو افغانانو په باره کې خبرې کوم چې په دې هیواد کې د ننه د لوړ پوړو چاروکو سره ډیرې ښې اړیکې لري او هغه کیمیاوي مواد چې دوي یې استعمالوي، هیواد ته په قاچاق راوړل کیږي، چې اکثرا د نورو قانوني موادو لکه تیلو غلطه بڼه ورکول کیږي. د دغو مواد د نیولو سطحه په افغانستان کې لوړه شوې ده، خو په شاوخوا هیوادونو کې په سختۍ سره کوم داسې یو کار کیږي لکه پاکستان، ایران او ترکمنستان.

د آپینو او هیروینو د قاچاق کار د هیواد په داخل او هم په بهر کې ډیر زیات منظم دی چې په هیواد کې د ننه د ځورواکو له خوا یې ملاتړ کیږي او د نړیوالو جنایي حلقو سره رابطه ورکړل شوې ده.

همدارنګه منظمې جنایي او تروریستي شبکې هم شتون لري، هغو له عیني لارو څخه د آپینو، کیمیاوي توکو، وسلو او د بل هر شی لپاره چې قاچاق کیږي، له ورته لارو چارو څخه کار اخلي. دغه لارې د جنایتکارو ډلو او یا د تروریستانو له خوا چیرې چې هغوي موجود دي کنترولیږي او هغوي د دغو لارو د ساتنې څخه ګټې اخلي. تاسو د عشر یا لسمې له مالیې سره بلد یاست چې د کرنیزو تولیداتو لس فیصدي ورکول کیږي او تاسو په دې باندې هم خبر یاست چې د افغانستان په سویل کې طالبان له کروندګرو څخه لس فیصده تولیدات اخلي، خو داسې شواهد هم شته چې طالبان په مخامخ توګه د نشه يي توکو په پروسس او قاچاق کې هم شامل دي او له دغو سوداګیرۍ څخه هم یوه برخه اخلي.

یو ان او ډی سی آټکلوي چې په افغانستان کې د ننه د نشه يي توکو صنعت څلور بیلیونه امریکایي ډالر ارزښت لري او د دغو یو بیلیون ډالر کروندګرو ته د کښت دروازه کیږي، خو ټول دغه یو بیلیون ډالر کروندګرو ته په لاس نه ورځي ځکه چې هغوي اړ دي د تخم، کیمیاوي سرو، رشتونو، عشر او کارګرو لګښتونه هم ورکړي. نو د دې پیسو یوه کمه برخه د کروندګرو جیب ته ځي. زموږ د اټکلونو سره سم د ګټې په سلو کې ۷۵ برخه (۳ میلیون ډالره) د نا قانونه سوداګرو او جوړونکو له خوا اخیستل کیږي خو نړیوال بازار البته تر دې هم زیات ارزښت لري، شوني ده د ۴۰، ۵۰ حتی ۶۰ بیلیونو امریکایي ډالرو په اندازه.

موږ د ډیرو پیسو په باره کې خبرې کوو او تاسو کولای شي تصور وکړئ چې څومره خلک د دغو پیسو د یوې برخې لاس ته را وړلو سره لیوالتیا لري. د نشه يي توکو ضد پولیس لا زیات فعالیږي او دا کار د افغانستان په ځینو برخو کې ستونزمن کوي، خو په عمده توګه د کوچنیو قاچاق وړونکو لپاره چې هغوي اوس خپلې لارې بندې کړې دي او یا هغه طریقې چې هغوي قاچاق کوي، د ساری په توګه د ګړندیو موټرو پر ځای اوس دغه توکي د خرو او انسانانو په واسطه له غرونو اړوي.
خو کوم مغزه چې د دغو عملیاتو تر شا دي او هغه د لوړې سطحې اجرا کوونکي، که تاسو يې د یوې اتحادیې په بڼه ورته وګورې چې هلته د لوړ کچ اجرا کوونکي کسان موجود وي، په دغو خلکو هیڅوک کار نه لري. شبکې ډیرې قوي دي، ځکه چې د نشه يي توکو سوداګران له فاسدو مسوولینو او د افغانستان څخه بهر د جنایتکارو شبکو سره اړیکه لري.
د پولیس لپاره دا څنګه شوني ده، چې پرته له هیڅ ډول بندي کولو او پرته هیڅ ډول مشکوکو کسانو د نشه يي توکو ستري اندازې ونیسي؟ آیا څنګه امکان لري چې دغه مشکوک کسان تښتي؟ تاسې پوهیږي چې افغانستان داسې یوه بڼه لري چې ځیني برخې يې تر ډیرې لوړې اندازې دښتې دي او سرې تښتیدای شي؟ دا هغه پوښتنې دي چې موږ يې له خپل ځانه کوو. داسې تیلفوني مخابرې کیږي چې نیول مشکوک کسان خلاص شوي دي. دغه تیلفونی عدالت چې موږ يې بولو د منلو وړ نه دی، ځکه چې دا کار په حکومت او د هغه په ارګانونو باندې باور له منځه وړي او باید چې دا کار اورمرو بند کړای شي.
هر څوک چې د نشه يي توکو په صنعت کې او فساد کې ککړ وي باید ارو مرو پلټنه يې وشي، تحقیقات ترې وشي او که چیرې تورن ثابت شي د قانون تر بشپړه حده پورې مجازات شي. دا قانون باید هر چا ته په برابره توګه د تطبیق وړ وي، نه یوازې د ټیټې سطحې د جنایتکارو او د لوړې سطحې ته هم، او د همدارنګه د هغو په باره کې چې هغوي په مخامخ توګه نه دي شامل، خو هغوي سوداګری ته اسانتیاوې برابروي.

د دغه کار د عملي کیدو څخه پرته د نشه يي توکو ستونزه به حل نه شي او جنایت، فساد او نا امني په هیواد کې دوام ولري، دغه کار چې دولت ورسره مخا مخ دي د یو شمیر دلیلونو له مخې حل کول يې خورا ستونزمن دي. تر ټولو مهمه دا چې په ځینو سیمو کې د دولت د کنټرول له کبله چې هغه د نشه يي توکو د سوداګرې لپاره مهمې دي، او د امنیت دستونزو له کبله، د پراخه اندازې د فساد له کبله- دا اسانه نه ده چې فساد په نښه کړو کله چې خپله فساد د دغې ستونزې د حلولو لپاره زموږ د جوړښت یوه برخه ده او د دولت په د ننه کې د ادارو ټیټې سطحې د ظرفیت له کبله.

یو ان او ډی سي له د وخته له دولت سره له ډیر نږدې کار کوي، چې د دغو ستونزو په حل کولو کې مرسته ورسره وکړي. او زه کولای شم د ځینو هغو شیانو مثالونه درکړم چې موږ کولای شو په دې کار کې ونډه واخلو.

د ساری په توګه، لکه چې تاسي هڅ وهلي شي د جنایتکارو شبکو مشران په چانس سره نه تشخیصیږي او د هغوي د اړیکو د خاطره. د دی لپاره چې د هغوي په نښه کیدل ممکن وګرځي د استخباراتي پولیسو کار ته اړتیا ده. د افغانستان پولیس تر اوسه پورې د جنایي استخباراتو ظرفیت نه لري. موږ چمتو یو چې د هغوي سره د دغو پولیسو په روزنه کې مرسته وکړو، خو موږ دې ته اړتیا لرو چې د نشه یي توکو ضد پولیس باید روزل شوي استخباراتي افسران ولري. ماته خبر را کړل شو چې یوه یا دوه ورځې د مخه د استخباراتي یونټ مشر یا د مشر مرستیال مقرر شوی دی او زه ددې ډیر هر کلی کوم، خو زه غواړم چې INCB له توکیو څخه د JCMB هغه پایلي یادې کړم چې په CNPA کې د مناسبو افسرانو مقررېدنه باید چټکه شي.

موږ کولای شو قانوني مرسته برابره کړو، مثلا د یو له بله حقوقي مرسته او اخراجولو یو له بله مرسته چې د افغانستان د حکومت سره به مرسته وکړي، چې لا نږدې او په بهتره توګه د ګاونډیو حکومتونو سره کار وکړي، څو هغه جنایتکاري نړیوالي شبکې په نښه کړي چې هغه د دغه هیواد د نشه یي توکو له زوررو له لاړدانو سره اړیکه لري.

موږ کولای شو چې د نشه یي توکو ضد قانون د ۴۲ په تطبیق کولو کې مرسته وکړو، چې هغه به دا شونې کړي چې هغه شتمنی کړي چې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د نشه یي توکو له جرایمو څخه لاس ته راغلي دي. او زه خبر نه یم چې شاید دغه کار تر کومې مهمې اندازې پورې سرته رسیدلای وي. دا به ددې امکان هم برابر کړي چې د مثال په توګه لوکس موټر او یا کورونه ضبط شي.

موږ کولای شو چې د فساد ضد ستراتیژی او د هغې په تطبیق کې مرسته وکړو. د حکومت د دغې پریکړې په شمول چې یو خپلواک فساد ضد ارګان طرحه او منځ ته راوړي.

دولت دا کار ډیر جدي نیسي او دغه نوی ټاکل شوی وزیر جنرال خدای داد د هغه څه چې ما وویل په بشپړه ملاتړ کوي ما پرون له هغه سره خبرې وکړې او موافقه مو وکړه چې تیلفوني عدالت باید پای ته ورسیږي او دا چې په فساد او د جنایتکارو شبکو په نښه کولو باندې باید زیات جدی کار وشي.

دا ځکه ډیر مهم ده چې د نشه یي توکو سوداګری او تشبث د هر افغان په مخ کې چې په کلی کې دی او یا د هغه افغان چې په کوڅه کې د هغه څه په لاس ته راوړلو کې مخنیوی کوی چې دی/دا یې په ژوند کې تر بل هر څه زیات غواړی او هغه امنیت دی.

یوناما: کریستینا له تاسو نه د دغو هر اړخیزو معلوماتو په خاطر مننه کوو، اوس غواړم چې پوښتنو ته موقع ورکړم.

## پوښتني او ځوابونه

**بی بی سی**: د نشه يي توکو ضد وزارت تل د هغو رپوټونو په باره کې چې ملګرو ملتونو په بيلا بيلو وختونو کې خپره کړی دي، په ډاګه کړې. دغه رپوټونه وايي چې د نشه يي توکو ضد جګړه کې د ناکامی مسوليت د افغانستان د حکومت پر غاړه دی، خو ددی بر عکس د افغانستان ډير خلک وايي چې نړيواله ټولنه په پره ده چې په دې برخه کې اغيزمن کار نه کوي.

**د ملګرو ملتونو د جرم او مخدره توکو دفتر**: افغانستان يو خپلواک هيواد دی، تصميم بايد افغانان ونيسي، د دې مانا دا نه ده چې مونږ کولای شو د نړۍ د نشه يي توکو ستونزې د افغانستان په غاړه واچوو. خاص د دې د خاطره چې افغانستان د هيروينو لپاره اومه توکي برابروي. ټول هغه نور شيان چې د هيروينو د جوړولو لپاره په کاريږي افغانستان ته له بهر څخه راځي. نو په دې توګه دا يو ګډ مسوليت دی، د افغانستان د حکومت او شاوخوا هيوادونو او همدارنګه د هغو هيوادونو تر منځ چې هغه په واقعيت کې هغه کيمياوي توکي جوړوي چې هغه له قانوني سوداګرۍ څخه اړول کيږي او يا دغه هيواد ته قاچاق راوړل کيږي. زه وايم چې دا يو ګډ مسوليت دی.

زه غواړم څه نور هم اضاف کړم، ما وويل چې دا خلک ولي دومره غښتلي دي نو ددی علت دا دی چې دا خلک د هيواد په کچه د جګ پوړو کار کوونکو او د هيواد څخه د باندې جنايتکار شبکو سره تړاو لري، نو بايد مونږ دغو کسانو سره ددغه مسير په اوږدو کې مبارزه وکړو.

د بی بی سي د پوښتني په تعقيب: نړيواله ټولنه سل په سلو کې مرسته نه کوي، د مرستو اندازه کافي نه ده.

**د ملګرو ملتونو د جرم او مخدره توکو دفتر**: دلته يوازې مرستو ته اړتيا نشته، تاسو د دې هيواد په د ننه کې حقوقي ابزارو ته هم ضرورت لري چې دا هيواد يې لا تر اوسه نلري، نو لدې لارې کيدای شي د پولو يوې او بلې خوا ته همکاري رامنځ ته شي. دا هغه کار دی چې مونږ غواړو د افغانستان د حکومت سره پدې برخه کې مرسته وکړو.

**يوناما**: د کوم شی لټون چې مونږ کوو هغه د تدارکاتو زنځير يا کړی ده: د تدارکاتو د دې کړی يوه برخه د هيواد په د ننه کې اوبله برخه يې د هيواد څخه د باندې ده. دا به بيځايه وي چې نړيواله ټولنه او د افغانستان حکومت يو بل ته د انتقاد ګوته پورته کړي او يو بل ملامت کړي، هغه څه ته چې مونږ اړتيا لرو هغه ددی مسلی په وړاندې د ګډ عمل خپلول دي. يو پر بل انتقاد کول به د اعتياد مخه پر زياتديونکې کچه په هيواد او سيمه کې را ټيټه نکړي. مونږ غواړو د نړيوالي ټولني او د افغانستان د حکومت ترمنځ ګډ اقدامات وګورو. هغه څوک چې غواړي د نړيوالي ټولني او د افغانستان د حکومت تر منځ واټن رامنځ ته کړي د هغه څه سره تړاو نلری، چې پدې هيواد کې ور سره مخا مخ يو. مونږ په هغه پلاټ فورم پيل کوو چې ددې ګډ اقدام لپاره تيار شوی او مونږ د افغانستان د حکومت له اړخه ډاډ تر لاسه کړي او غواړي ددی ستونزمني مسلی پر سر زمونږ سره کار وکړي. لکه څنګه چې تاسو ټول پوهيږي، د نشه يي توکو او قاچاق مسلی د ميانمار، هند او ټالينډ په هيوادونو کې نږدې ۲۰ کلونه اخيستي ترڅو دا ستونزه هواره شي. مونږ اوس د جګړې نه وروسته حالت کې قرار لرو، او يوازې پنځه يا شپږ کلونه تير شوي دي. د دې مسلي سره د معامله کولو په موخه زيات وخت ته

اړتيا ليدل کيږي. د نړيوالي ټولني او د افغانستان د حکومت ژمني له نظر څخه مه اچوي کوم چي ددې ستونزمني مسلي سره معامله کوي.

**الجزيره:** موږ وينو چي نړيواله ټولنه د تروريزم او د تروريزم په وړاندې د مبارزې په هکله ډيره جدي وهڅه که چيرې هغوي د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې په هکله نو مږ به په هيواد کي د نشه يي توکو ددې مخ پر زياتيدونکي ستونزې شاهد نه وو. ولي نړيوال پوځي ځواکونه د نشه يي توکو په وړاندې په مبارزه کي برخه نه اخلي.

**د ملګرو ملتونو د جرم او مخدره توکو دفتر**: ما د تروورزيم او سازمان شويو جرمونو د اړيکو په هکله د مخه خبرې وکړې او دا اړيکي د نړۍ په کچه موجودې دي. پدې کي هيڅ شک نشته دا ډول اړيکي دې دلته موجودې نه وي موږ نشو کولای وواېو چي موږ به د تروريستانو او جنايتکارو شبکو سره مبارزه وکړو، موږ بايد دواړه کارونه يو ځای وکړو. د نشه يي توکو په وړاندې په مبارزه کي د پوځي ملاتړ په حواله بايد وويل شي چي موږ د ايساف د ځواکونو په موقف کي يو بدلون ليدلی، ځکه چي تاسو نشی کولای ددغو دواړو مسلو تر منځ توپير ووينې. ښکاره دی چي هغوي خپل اختيارات لري، هغوي بايد ددغو اختياراتو په د ننه کي کار وکړي، خو که وګورو نو دا دواړه مسلي د يو بل سره دومره تړاو لري، بعضي وختونو عين شخص په عين کور کي وي يا دا شخص ورور او يا هم تره وي، نو دا د يو بل سره تړاو لري او داتړاو په افغانستان کي مخ پر زياتيدو دی. زه فکر کوم چي دا مهمه ده چي دا ډول ستونزې د هيواد په سويل کي حل شي، تاسو مه واياست چي د ياغيتوب په وړاندې مبازه وکړي او بيا موږ د نشه يي توکو په وړاندې مبارزې ته را وغواړي، بايد د دواړو او اداري فساد په وړاندې مبارزه وکړي، ځکه چي درې غښتلي عنصرونه پدغه ناسم مسير کي کار کوي: ياغيتوب، د نشه يي توکو قاچاق، د توليد شبکي او اداري فساد.

**آزاد خبريال**: تاسو همدا اوس د ايساف بدلون ته د دغي مسلي په چوکاټ کي اشاره وکړه. د ايساف د اختياراتو په د ننه کي کوم داسي څه دی چي هغوي ددی کار د کولو څخه د تروريزم د له منځه وړول او د هغو مرکزونو د له منځه وړلو چيرته چي د تروريزم، د تروريستانو د ډول د مالی ملاتړ او د هغوي د زيربنا ملاتړ کوي منع کوي. آيا کوم سياسی ملاحظات شته چي ايساف او يو ان آو ډی سي د کړنو څخه مخنيو کوي. که چيرې تاسو کافی شواهد لري چي وښي د افغان چارواکو تر منځ د مخده توکو په سوداګرۍ کي د لوړې کچې اړيکي دي، داسي څه دي چي تاسو د هغوي د نوم اخيستلو څخه منع کوي.

**د ملګرو ملتونو د جرم او مخدره توکو دفتر**: ستاسو د لومړی پوښتني ځواب ډير اسانه دی، او زه به دغه پوښتنه ايساف ته راجع کړم، ځکه چي زه نشم کولای دې پوښتني ته ځواب ووايم او دا زموږ په اختياراتو کي شامله نده. ستاسو د دومي پوښتني په اړه بايد ووايم چي يو ان آو ډی سي د خلکو په اړه شواهد نه راغونډوي. موږ په ټوليز ډول اطلاعات راغونډو، دا کافی ندی چي څوک پوه شي چي څوک په فساد ککړ وي. تاسو بايد شوهدا راغونډ کړي، تاسو بايد دوسيه وڅيړئ، تاسو بايد دوسيه تر عدلی تعقيب لاندې ونيسي او ددي کار پر مخ وړل د يو بل ارګان او د ملګرو ملتونو کار نه دی.

**د طلوع تلویزیون**: زما پوښتنه زما د مخکنی پوښتنې په تعقیب ده. تاسو په هیواد کې د نشه يي توکو په قاچاق کې د ښکیلو لوړ پوړو چارواکو د شواهدو په اړه خبرې وکړې، ولې تاسو د هغوي نومونه نه اخلئ؟ که چیرې دافغانستان حکومت د ځینو سیاسي ملاحظاتو په خاطر د دغو نومونو د اخیستلو څخه ډډه کوي، کوم شیان ملګري ملتونه ددغه کار د کولو څخه منع کوي. زما دومه پوښتنه: آیا تاسو دا منئ چې د طالبانو د رژیم د راغورځیدو وروسته د نشه يي توکو په وړاندې مبارزه د ناکامی سره مخامخ شوې؟

**د ملګرو ملتونو د جرم او مخدره توکو دفتر**: ستاسو د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې باید ووایم چې دا د ملګرو ملتونو دنده نه ده چې د خلکو نومونه واخلي. زه د خلکو نومونه او قطعي شواهد له ځانه سره نلرم. زه د حکومتي لوړ پوړو کارکوونکو په اړه معلومات لرم چې د نشه يي توکو په سوداګرۍ کې ښکيل دي. دا هغه پوښتنه ده چې باید په بشپړه توګه وڅیړل شي. د دغو خلکو په تثبیتولو کې باید پولیس او څارنوالان برخه واخلي. موږ چمتو یو چې د هغوي سره ددی ډول سیستم په جوړولو کې لکه څنګه چې هغوي غواړي دا کار پر مخ بوزي، مرسته وکړو. دا یوه کمزورتیا ده او د سیاسي ارادې په هکله یوه پوښتنه ده. همدارنګه دا یوه پوښتنه هم ده چې څنګه کیدای شي دا خلک وپیژندل شي.

زه باید ووایم چې دا کار په هیڅ هیواد کې یو آسانه کار نه دی. د ستونزې یوه برخه د هغو خلکو په اړه ده چې د ښو اړیکو درلودونکي دي او دا ستونزه په هغو هیوادونو کې هم شتون لري چې ښه پرمختللی قضایي سیستمونه لري. دا یو اسانه کار نه دی، ددې کار د ترسره کولو لپاره باید نبې نښانې موجودې وي او باید په لوړه کچه کې ترسره شي او دا به د پام وړ وي که چیرې پولیس او څارنوالان دا ستونزه تر هدف لاندې ونیسي.

**یوناما**: افغانستان یو خپلواک او ویاړلی هیواد دی چې خپل عدلی سیستم په خپله اداره کوي. ملګري ملتونه د هیواد د خلکو پخ نمایندګی د افغانستان د قضایي سیستم په اداره کولو کې هیڅ ډول نقش نشي لوبولای. قضایي سیستم باید د افغان چارواکو لخوا پخپله اداره شي. موږ د هغوي سره د مرستې لپاره راغلي یو ترڅو د هغوي ظرفیت لوړ کړو او د قانون جوړولو پروسه جوړه کړو ترڅو افغانان پخپله دا خلک چې د نشه يي توکو په سوداګرۍ کې ښکیل دي، محاکمه کړي.

**د ملګرو ملتونو د جرم او مخدره توکو دفتر**: ستاسو د پوښتنې د وروستي برخې په هکله باید ووایم، که چیرې ما ویلی وای چې دا مو بریالیتوب ده نو زه پوهیږم چې تاسو به په ما خندلی یا ژړلی واي. په ریښتیا سره چې دا د اندیښنې وړ یوه ستونزه ده. دا ډیره جدي ستونزه ده، خو زه فکر نه کوم چې مایوس کوونکې دې وي. زه فکر کوم چې موږ به وکولای شوی چې دا ستونزه هواره کړو، خو موږ دلته دوو روښانه ستراتیژي ګانو ته اړتیا لرو.

د هیواد په شمال کې لکه څنګه چې تاسو پوهیږي د کښت کچه په ټیټیدو ده او موږ باید ډاډ حاصل کړو چې هلته خلکو ته زیات تشویقي انګیزې ورکړل شي. باید په زیربنایي چارو، مشروع معیشت، معارف، روغتیا او داسې نورو برخو کې زیاته پانګونه وشي او لدې لارې به د هیواد د شمال سره مرسته وشي. په عین حال کې تاسو باید پدغو سمو کې د نشه يي توکو د قاچاق او اداري فساد په هکله هم باید څه اقدامات وکړئ، ځکه چې دا ستونزه د هیواد په کچه په غوړیدو ده. د هیواد په سویل کې، د یاغیتوب، تروریزم، اداري فساد، سازمان

شويو جرمونو تر منځ له بده مرغه سياسي زمينه موجوده ده. د هيواد ددې برخې د ستونزو لپاره د حل د يوې لارې پيدا کول به ددې مسلو په وړاندې ګډه مبارزه کول وي. دا کار به زيات وخت ته اړتيا ولري، لکه څنګه چې حليم وويل دې کار په ټاليند کې ۲۰ کاله وخته ونيو، نو زه فکر کوم چې دا کار به لږ تر لږه دومره وخت ونيسي. زه فکر نه کوم چې دا دې مايوس کوونکي وي خو زه فکر کوم چې دا ډيره مهمه ده چې موږ پدې پوه شو چې دا هيواد دوه تمايلات لري. تاسو نشي کولای ورته کار د هيواد په شمال کې او په عين حال کې د هيواد په سويل کې ترسره کړې. تاسو بايد د دغو دوو تمايلاتو تر منځ توپير وکړې. زه باور لرم چې حکومت به د لږ څه زياتو هڅو په کارولو سره د ترياکو څخه د پاکو ولايتونو شمير نور هم لوړ کړي. تير کال هغوي وکولای شوي چې د ترياکو څخه د پاکو ولايتونو شمير د ۶ ولايتونو څخه ۱۳ ولايتونو ته جګ کړي، خو زه فکر کوم چې سږ کال به هغوي څو نور ولايتونو هم پکې ور زيات کړي.

**د فرانسي خبری آژانس**: د يو ان او ډی سي او د کورنيو چارو وزارت د رپوټونو مطابق، هغه سيمې چې د ترياکو د کښت څخه باکې شوي اوس چرس کري. د ترياکو د کښت د راټيټيدو سره د چرسو په کښت کې زياتوالی راغلی. د دې کار علت څه دی؟

**د ملګرو ملتونو د جرم او مخدره توکو دفتر**: زه فکر کوم چې دا مسله د هغه څه څخه چې تاسو ورته پخپله پوښتنه کې اشاره وکړه ډيره جدي ښکاري، ځکه چې دا يوازې چرس ندی چې د ترياکو څخه په پاکو سمو کې کرل کيږي، بلکه په کندهار کې يو زيات شمير چرس او يو زيات شمير ترياک کرل کيږي. لومړی مقام هميشه ښه مقام نه وي. هيواد د چرسو د لومړی مقام لپاره هم لکه د ترياکو د لوړ مقام په لور روان دی. زه فکر کوم که چيرې يو ماشوم په خپل لاس کې يو څه ولري او تاسو هغه ته کوم بل شي ورکړي، نو نوموړی هغه لومړنی شی غورځوي ترڅو دوهم شی تر لاسه کړي، نو موږ نړيواله ټولنه او د افغانستان حکومت بايد دا کار و نه کړو.

موږ بايد له يوې مسلې څخه په زياتو مسلو تمرکز ولرو، نو له همدې کبله موږ يو پراخ روش ته اړتيا لرو. که موږ چيرې خپل ټول تمرکز په يوه موضوع متمرکزه کړو نو د ګواښ احتمال رامنځ ته کوي ځکه چې هلته روښنايي شته، تياره د روښنايي څخه د باندې موجوده ده او تاسو کولای شي هلته هرڅه تر سره کړي، او دا کار درست دی. آی ان سی بی دا موضوع د حکومت سره شريکه کړې، زه باور لرم چې د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې نوی وزير به د چرسو په هکله تدابير ونيسي.

**د آريانا تلويزيون:** د آی ان سی بی راپور له مخې به په ۲۰۰۸ کال کې په هيواد کې د ترياکو کښت مخ پر لوړيدو وي. د ميليونو ډالرو سره بيره چې د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې په لاره کې ولګول شي، نو بيا ولې د نشه يي توکو کښت په ډيريدو دی؟

**د ملګرو ملتونو د جرم او مخدره توکو دفتر**: دا نا سمه ده، دا د آی ان سی بی دنده نه ده چې د راتلونکی په هکله وړاندوينه وکړي. يو ان او ډی سي او د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې دفتر يوه چټکه ارزونه ترسره کړې او په نږدې ۵۰۰- ۶۰۰ کليو کې يې د بزګرانو څخه د هغوي د غوښتنو په هکله پوښتنې کړې او پدې ارزونه کې جوته شوې چې د هيواد په شمال کې کم والی راغلی او همدارنګه په ننګرهار کې چې د

ترياکو د کښت يوه ستره سيمه وه ډير کموالی راغلي، خو بيا د هيواد په سويل کي د ترياکو په کښت کي زياتولای راغلي دی. په ټوليز ډول، د ترياک په کښت کې ورته او يا لږ کموالی راغلی دی.

**د تمدن تلويزيون**: ويل کيږي چې د ايساف ځيني چارواکي او ځيني خصوصي کمپنی په هيواد کي د نشه يي توکو په قاچاق کي ښکيلي دي، پدي اړه ستاسو معلومات څه دي؟

**د ملګرو ملتونو د جرم او مخدره توکو دفتر**: زه پدې هکله هيڅ معلومات نه لرم.

**يوناما:** زه ډير خوشحاله يم چي دې پوښتني ته ځواب ووايم، بايد ووايم چي دا يو غير عاقلانه نظر دی. لطفا دا نشر کړئ.

ستاسو څخه ډيره مننه